# DPS کې له مسلمانو والدینو څخه

## تر ټولو زیات پوښتل کېدونکې پوښتنې

DPS له غیر قانوني تبعیض او ځورونو څخه ازاد تعلیمي چاپیریال وړاندې کولو ته ژمن دی.

DENVER PUBLIC SCHOOLS

Discover a World of Opportunity™

### ایا زما ماشوم ته کله چې خواړه د خنځیر غوښه ولري خبر ورکول کیږي؟

خواړه او تغذیي خدمتونو په دې وروستیو کې داسې سیستم تاسیس کړی کوم چې هغو خوړو په اړه چې د خنځیر تولیدات ولري خبرداری ورکوي. عموماً، د DPS سهارنی او غرمې ډوډۍ په ندرت سره د خنځیر غوښه لري. کولای شئ خپلې پوښتنې او اندېښنې د ښوونځی د پخلنځای له مدیر سره شریکې کړئ.

### ایا DPS زما ماشوم ته د مسلمانانو په رخصتیو کې ښوونځی ته د نه تللو اجازه ورکوي؟

هو. د DPS د حاضرۍ مقررات JHB-R مذهبي رعایت ته د غیر حاضرۍ مناسب عذر ګڼي. له وړاندې څخه له ښوونځی سره اړیکه ونیسئ تر څو هغوي خبر شي چې رخصتي روانه ده او ستاسې ماشوم به غیر حاضر وي.

### ایا زما ماشوم په ښوونځی کې د لمونځ اجازه لري؟

هو. DPS له زده کوونکو سره د هغوي مذهبي باورونو پر بنسټ تبعیض نه کوي، او زده کوونکو ته تر هغه چې د ښوونځی له چاپیریال سره مداخله ونه کړي د لمونځ او مذهبي اوامرو ترسره کولو اجازه ورکوي. موږ کورني تشویقوو چې د ښوونځی له مشرانو سره د دې لپاره چې د هغوی مذهبي اړتیاوو ته په غیر مخرب ډول زمینه مساعده شي خبرې وکړي.

### زه کله چې زما ماشوم د مسلمانی له امله وځورول شي څه کولای شم؟

زده کوونکی یا کفیل یې هڅول کېږي چې په ګړندی ډول د ښوونځی مشر، مشاور، ښوونکی یا د ولسوالی د زده کوونکو د موافقت مامور (د زده کوونکو د مساواتو او فرصتونو دفتر) ته په شفاهي یا AC-E2 فورمې له لارې په لیکلې بڼه راپور ورکړي: «د تبعیض/ ځوروني شکایت فورمه». که چېرې فکر کوئ چې پېښه ستاسې ماشوم لپاره ناخوندي چاپېریال جوړوي د ښوونځی رهبریت خبر کړئ. خپل ماشوم یا ماشومې سره د هغوی احساساتو په اړه خبرې وکړئ، او خپل ماشوم څخه د هر ډول پاتې شوې وېرې او اضطراب احساساتو کې ملاتړ وکړئ. زده کوونکي کولای شي د Safe2Tell له لارې په لاندې شمېره راپور ورکړي **1-877-542-7233** **(Safe2Tell.org)** یا د کورنۍ او ټولنې کړښې ته په لاندې شمېره زنګ ووهئ **720-423-3054**.

### ایا د DPS ښوونکي کلتوري حساسیت روزنه ترلاسه کوي؟

هو. د DPS ټول ښوونکي 1.5 ساعته د تبعیض او 1.5 ساعته د کلتوري ځواب ویلو روزنه ترلاسه کوي. ولسوالۍ مختلف اختیاري پروګرامونه کوم کې چې د ټولو کارکوونکو لپاره په کلتوري ځواب ویلو کې مسلکي پرمختګ، کوم کې چې 12 ساعته بنسټیز او پرمختللي روزنې شامل دی؛ دوه ورځنۍ روزنه چې د رهبرو ښوونکو او مدیرانو لپاره د DPS هیله بلل کېږي؛ او د تعصب پوهاوی بنسټیز او پرمختللې روزنه ده شامل دي.

### ایا DPS عربي انتخابي ژبې په ډول وړاندې کوي؟

اوسمهال، سویلي عالي لیسه عربي 1 او همداراز میراثي عربي هغو زده کوونکو لپاره چې د عربي ژبې شالید لري او هغو زده کوونکو لپاره چې غواړي عربي زده کړي وړاندې کوي.

### DPS عربي مورنۍ ژبې لرونکو زده کوونکو لپاره نور کوم ملاتړونه وړاندې کوي؟

ښوونځیو د یوې ژبې هر 15 اصلي خبرې کوونکو ته له زده کوونکو څخه د هغوی ELA ټولګیو کې ملاتړ لپاره یو مسلکي مورنۍ ژبې ښودونکی ګومارلی. اوسمهال، د ښوونځیو د عربي خبرې کوونکو مورنۍ ژبې ښودونکي په لاندې ډول دي: Denver Green School, Ellis, Hamilton, Holm, McMeen, Merrill, Montclair, Place Bridge, Samuels, South, Joe Shoemaker, Southmoor او University Park.

### ایا DPS د والدینو لپاره د ژباړې خدمتونه وړاندې کوي؟

هو، دغه خدمتونه والدینو ته له لګښت پرته وړاندې کېږي. که چېرې تاسې د ژبې خدمتونو ته اړتیا ولرئ، لطفاً د خپل ښوونځی له مدیر څخه وغواړئ چې مناسب خبرتیا (اوه ورځې، که ممکن وي) سره د DPS له کلتورونو خدمتونو دفتر څخه غوښتنه وکړي. د بېړنیو او ناڅاپي اړتیاو لپاره، هر ښوونځی د ژبې تیلیفوني ژباړې کرښې ته لاس رسی لري.